مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور ۲۰۲۶/۰۱/۰۵

# د خدای د لیدو کیف به مې موندلو میخانه کې

بلا د جهالت وه او نهره راپسې وه
بدن مې یاغي شوی و ککره راپسې وه

زما د سر ساتلو ته په زړه اندېښنه نه وه
د خپل قام د عزت به مدام یره راپسې وه

کوم درد دې چې احساسه داسې سوی لوغړن کړم
هماغه د درد څریکه لکه زغره راپسې وه

د خدای د لیدو کیف به مې موندلو میخانه کې
جنت ته تلوسه به له ممبره راپسې وه

نور هر چا به وم پرېښی پخپل سر لکه شمال
یو مور وه له جنته تر سقره راپسې وه

تر څو یې ور سم نه کړم پر صراط المستقیم
جذبه مې له انکاره تر باوره راپسې وه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ